د افغانستان اسلامي جمهوریت سفارت
اسلام آباد - پاکستان

EMBASSY of THE ISLAMIC REPUBLIC of AFGHANISTAN
Islamabad - Pakistan

سفارت جمهوری اسلامی افغانستان
اسلام آباد - پاکستان

گڼه: ت - ۹۴۴ / ۰۵
نېټه : ۴ زمری ۱۳۹۹ ( ۲۵ جولای ۲۰۲۰ )
موضوع: ۳۲ عددو وینټلیټرونو په اړه
مل: نلری

د اهمیت درجه
مهم: ✓
محرم:
عادی:

**د بهرنیو چارو محترم وزارت ته!**
**د دفتر محترم ریاست د پام وړ:**

ددې سفارت د ( ت - ۹۱۹) گڼې او ( ۳۰ سرطان ۱۳۹۹) نېټې د لیک په تعقیب او د لومړي سیاسي ریاست د ( ۹۴۹) گڼې او (۳۰/۴/۱۳۹۹) نېټې د لیک په ځواب کې لیکل کېږي:

څرنگه چې تاسو محترم ریاست په جریان کې دی، د هغو (۳۲) عددو وینټلیټرونو په اړه، چې ویل کېږي له افغان حکومت سره مرسته شوي و او پاکستان ته قاچاق شوي، له دې سفارت سره معلومات شریک شوي چې گواکې نوموړي وینټلیټرونه په پېښور کې له قاچاقچیانو سره دي او دوی غواړي چې نوموړي وینټلیټرونه د (۸) زره امریکایي ډالرو په مقابل کې وپلوري.

دا چې یاد ۳۲ وینټلېټرونه هماغه دي چې د راپورونو له مخې پاکستان ته قاچاق شوي او که نور دي، سفارت یې په اړه کره شواهد او معلومات نه لري ولې د هغو معلوماتو له مخې، چې د یادو قچاقچیانو د استازي له لوري له دې سفارت سره شریک شوي، داسې گمان کېږي چې هماغه وینټلېټرونه دي. سره ددې چې نوموړي موضوع د دې سفارت له لوري په مرکز کې له اړونده مقاماتو سره په شفاهي ډول او د بهرنیو چارو وزارت سره د رسمي لیک له لارې شریکه کړای شوې ترڅو د یادې موضوع د لا روښانتیا او په اړه یې لازم اجراات ترسره شي ولې تردې دمه سفارت ته لازم هدایت نه دی ورکړل شوی. سفارت د بهرنیو چارو وزارت د محترم مقام څخه هیله لري ترڅو په دې اړوند واضح هدایت راکړي ترڅو یې پر بنسټ لازم اجراات ترسره شي.

په درنښت

شکرالله عاطف مشعل
لوی سفیر



PAJHWOK
Afghan News